شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۳/۰۸/۲۹

# د لاس غرګې (۱)

## (لنډه کیسه)

د کار په ستر دفتر کې د راي اچوني پایله اعلان شوه. ګڼه ګونه زیاته وه، زموږ همکار، انور چې په طنز ویلو او ټوکو کې له ټولو مخکې دی، وویل :وګورئ، د انتخاباتو کمیسون ته موږ باید سبق ورکړو، چې رایې ورکونه کې دي روڼتیا له موږه زده کړي. همکاران ډله ډله راتلل، نوي مشر تابه ته د مبارکۍ ورکولو له پاره په کتار کې ولاړ وو. زما د خیال مزي یې تېردوه کاله مخکې ته وروګرزول :هغه مهال د هېواد په دغه سیمه ایزې راډیو کې مې ساه تنګه وه، اوریدونکي مو د نورو بې شمیره نوموتو راډیویي او تلویزوني خپروتو مینه وال و. خو زموږ د رسنۍ ریس ډیرو کوښښونو سره سره کوم پرمختګ نه و رامنځ ته شوی. که څه هم تجربه لرونکي خبریالان هم وګمارل شول، چې په هغې کې زه او مرغلره هم شاملې وو، لا حالت هماغسې یاتې و ، ځکه زموږ ورانديزونه نه منل کیدل او خپروني مو په وچو خبرونو او تحقیقي راپورونو ولاړې وې چې د نورو رسنیو له رنګینو خپرونو سره په سیالۍ کې پاتې راتلو. تر څو زموږ د کار په چاپیریال کې د همکارانو په خبره یوه بله ناکامه هڅه وه، چې یو بل ځوان وګمارل شو .ډېر ژر موږ ټولو دغه نوی بې تجربې همکار تر پوښتنې لاندې راوست. په لومړي سر کې زما نږدې ملګرې او همکاره مرغلره راغله او زما په غوږ کې وویل: راځه چې یو څوک درته وښیم .

زه په خپل کار بوخته وم، ما ویل، ته ځه، زه وروسته درځم. خو وروسته د غرمې ډوډۍ پر مهال یو نوی ځوان د نورو همکارانو په منځ کې ناست و، راته یې په ګوته کړ . ما ورته وکتل د شلو کالو راته ښکاره شو. ما ویل مرغلرې. دا ډیر کم عمره نه دی؟ مرغلرې کړه: دا نوی همکار همدا دوه میاشتې مخکې د ژورنالیزم له پوهنځي فارغ شوی او له وړاندې ولسوالۍ راغلې، محب ارمان نومیږي. ما کړه ښه خبره ده، عمر به یې دومره کم هم نه وي، هسې ډیرکمکې ښکاري، هرکله دې راشي. مرغلرې کړه، موږ هر یو د څو څو کلونو کاري تجربه لرو ، ما کړه، ښه نو اوس ده ته د شک په سترګه کتل کیږي. مرغلرې تنده تروه کړه: ته نه وې ترینې، په کانتین کې ټولو همکارانو یو غورمچ جوړ کړې وو، چې کم عمره او بې تجربې دی .

لږه موده وروسته هغه ورځ د پسرلي موسم لمرینه توده ورځ وه او زموږ د کارځاي په انګړ کې چې د اکاسی ونې ولاړې دي،ګرمې هوا کې ورسره د اصیلو ګلابو څو بوټو ټوله فضا عطرینه کړې وه، د خوشبوي څپې زموږ کاري فضا کې هم خپل اغیز کړی و .زه او مرغلره چې تل د تحقیقی راپورنو له پاره سره په ګډه کار کوو، هسی په ټوکو وغوښتل، چې دغه نوی راغلې وازمایو. مرغلرې ماته اشاره وکړه او ما کړه: «ارمان صاحب! که تاسی په څیړنیزه برخه کې له موږ سره کار وکړئ، ډیر به ښه شي. هغه پوښتنه وکړه :د څه شي په اړه؟ ما کړه :دغه موضوع چې ولي په ټولنه کې، مخ په ډیریدونکي توګه د غلا او ترهګرو فعالیتونو وجه څه ده او لامل یې څه دی؟ په اړه یې که راته خام مواد پیدا کړئ .محب،چې په ونه کې لوړ دنګ او په اوږو کې پلن زلمې وو، خپلې زرزې غټې سترګې یې یو ځل ماته او بیا مرغلرې ته وغړولې، څو شیبې چوپ شو او بیا یې په کرار وویل :ماته کولې شئ یو ساعت وخت راکړئ. موږ دواړو په حیرانۍ یو بل ته وکتل. ځکه موږ هسي هغه ازمایه چې څه ډول غبرګون ښیې او اټکل مو دا وه، چې پرته له ځنده به د نه ځواب راکړي او یا به وخت وغواړي .ما کړه: اوس لس بجې دي، تر ۱۱ بجو وخت لري. په دې هکله مو نورې خبرې ونه کړې، زه او مرغلره په خپل کار کې داسې بوختې شو،چې هډو مو له یاده ووتل.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

لا ۱۱ بجو ته لس منټه پاتې و، زموږ د کار په  ستره کوټه کې چې اته میزونه دوه، دوه څنګ په څنګ او شا په شا ایښې وو، محب زموږ تر خوا راغې او څو پاڼې لیکنه یې زموږ مخې ته کښنوده   .موږ دواړو په حیرانۍ سره یو بل ته وکتل، باور مو نه راته چې په لنډ وخت کې به، د یوې څېړنیزې موضوع له پاره دومره ډیر څه ولیکلې شی. ما کړه: شاباس! ته خو ډیر مخکې یې. مرغلرې مې خبره ونیوله، لومړې خو یې ولوله او بیا پریکړه وکړه. محب په ژورو کتلو سره چوپ و او څو شیبې وروسته یې وویل: بلکل تاسې  یې وارزوئ بیا راته خپل نظر ووایاست .لیکل شوی پاڼې مو ترې واخیستې، هسې هم د ډوډۍ وخت و، هر څه مو پریښودل او په ډیرغور مو د هغه لیکنه ولوستله. هغه ډیرې سرچینې وړاندې کړې وې.

لکه په ښار کې دننه او له ښاره لرې لرې د فقر او بیکارۍ کچې ارزول، په ښار او بازار کې روانې نادودې،چې معیوبین او یتیم ماشومان څه ډول په شاقه کارونو اخته دي، کم عمره ماشومان ښوونځیو ته د ورتګ توان نه لري. په وړاندې کلیو کې په کم عمر کې د جینکو واده کول، د سړک پر غاړو د سوالګرو ماشومانو او کونډو میندو خیرات غوښتل او د شتمنو خلکو بې شانه شانداره ژوند.  دغه راز د هغوي د اوسیدلو مانۍ چې پرتې لارې ورته تړل شوی دي، شامدام بریښنا لري او خواته کورونه په تیاره کې پټ وي.یا هم په دفترونو کې رشوت او فساد، له قانون څخه سرغړونې. ورته بې شمیره بیلګې یې راوړې وې،چې زه او مرغلره یې تر ډیرې اغیزې لاندې راوستو .د دغه وړاندیزونو له لوستلو وروسته موږ دواړه له ځایه پورته شو او محب مو لټوو.

له خپلو همکار انور نه مو پوښتنه وکړه، ما کړه: محب ارمان چیرته دی؟ انور،پرته له ځنډه وویل: په هغه خوارکې څه کوئ، اوس مې په کانتین کې ولیده .موږ په بیړه په هغه پسې کانتین ته ولاړو، هلته مو ولیده، عجیبه وه، دلته یې هم یو پنډ کتاب یې پرانیستې و، په کې بوخت و. په دې شیبه کې مرغلرې خپلې تورې سترګې راواړولې، ما تل هغې ته ویل، ستا سترګې ډیرې ژورې دي او د هر څه په لیدلو یې تل ته کوزیږي. خو اوس زه په شک کې وم، لکه چې د دغه ځوان بې سارې وړتیا په ارزونه کې پاتې راغلې وو   .زړه نا زړه مو یو بل ته وکتل، په پای کې ما کړه: ارمان صاحب ! هغه ژر له کتابه خپل سر راپورته کړ . ما کړه: مهرباني مو کړې او دومره هر اړخیزه لیکنه مو ډیره په زړه پورې ده.هغه لا هم په ځیر راته کتل .ما کړه، ډیرو مهمو موضوع ګانو ته دې ګوته نیولې. همداسې چوپ و، مرغلرې زیاته کړه: هو زه او ترینه سبا ته پر یوه مهمه موضوع  یو ځای کار کوو، که راسره مرسته وکړې. د ارمان پر شونډو موسکا راښکاره شوه. ولې نه په ډیره مینه .همدا و  چې موږ په ګډه کار پیل کړ، ډیر ژر د ټولو همکارانو له پاره محب ارمان مرستې ته ولاړ و، انور خو ورته د لاس غرګې  لقب کښیود. معنا دا چې هر چاته د مرستې له پاره تیار و.. لږه موده لا نه وه تیره چې زموږ د خپرونې زوګ پورته شو .تر ډیرو رادیوې خپرونو مخکې شو.ټولو همکارانو ویل، په دومره بې سارې علاقې او هڅو سره زموږ په منځ کې څوک نه شته  .او دا دې اوس یو دوه کاله وروسته د خپرونو چې اوس په کې د انلاین پروګرامونه هم شامل دي د مشرتابه د څوکۍ له پاره محب ارمان په رایې اچونه کې له ټولو نوماندانو مخکې او د ریس په توګه وټاکل شو. انور لا خوشاله و او په دې موده کې ورسره دوستي ټینګه شوې، ځکه خو یې موږ ته کړه :د لاس غرګې خو په ریښتیا زموږ له پاره د لاس غرګې شو .په دې شیبه کې مرغلرې دیکه راکړه، راځه چې ارمان صاحب ته مبارکی ورکړو! او د تیرو دوه کلونو په هکله یې زما د خیال مزي وشلول.

---

(۱) د لاس غرګې: د کور میرمنې د پخلي په وخت کې له داسې تیګې کار اخلي لکه د وړوکې غونډسکې په څیر، دوی پرې هوږه، دنیا، مرچ او نور د خوړو پخولو پر مهال میده کوي. یا که ناڅاپه کومه پیشي یا بل حیوان پرې راشي ګوزار هم پرې کوي. مطلب داچې د لاس غرګې د کور میرمن د کار شې دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ